# خالص

# طلا

Scripture taken from the New Testament
in Pakistani Yousafzai Pashto.
Copyright © 2022 Pakistan Bible Society.

# د انجيل ښخه ټکي

Edition 2025
© by GBV
printed in Germany

**GBV Dillenburg GmbH**
Eiershäuser Straße 54
35713 Eschenburg
GERMANY
www.gbv-dillenburg.de
www.gbv-online.org
www.bibleo.org

کلام د ازل نه موجود وو او
کلام د خُدائ پاک سره وو او
هغه کلام خُدائ پاک وو.

يوحنا ۱:۱

او دغه کلام د ژوند سرچينه
وه او هم دا د ټولو
انسانانو دپاره نُور وو.

يوحنا ۱:۴

عیسیٰ بیا خلقو ته مخاطب
شو او وې فرمائیل،
”زۀ د دُنیا نُور یم. څوک چې
ما پسې راځی هغه به هیڅکله
په تیارۀ کښې نۀ ګرځی بلکې
هغه به د ژوندون رڼا ومومی.“

یوحنا ۸:۱۲



عیسیٰ هغۀ ته وفرمائیل،
”زۀ لار یم، زۀ حق یم او
زۀ ژوندون یم. هیڅوک
هم زما د وسیلې نه بغېر
پلار له نۀ شی راتلے.“

یوحنا ۱۴:۶

عیسیٰ ودرېدلو او په اوچت
آواز يې وفرمائيل،
”کۀ څوک تږے وی هغه دې ما
له راشی، هغه دې وڅښی.
او څوک چې په ما ايمان راوړی، لکه
چې صحيفې وائی، د ژوندون د اوبو
سيندونه به د هغۀ نه بهيږی.“

يوحنا ۷:۳۷-۳۸



”اے تاسو ټول چې خوارى کوئ
او پنډ مو درونډ دے، ما له
راشئ او زۀ به آرام درکړم.“

متی ۱۱:۸۲

”ځکه چې زما جغ په
وړلو کښې پوست دے او
زما پنډ سپک دے.“

متی ۱۱:۳۰

”اے خُدایه پاکه، په ما رحم
وکړه، زهٔ ستا ګناه ګار یم.“

لوقا ۱۸:۱۳

ځکه چې د ګناه بدل مرګ
دے خو د خُدائ پاک بخښنه
زمونږ په مالِک عیسیٰ مسیح
کښې د تل ژوندون دے.

رومیان ۶:۲۳



عیسیٰ جواب ورکړو،
”زهٔ تاسو ته رښتیا وایم، هیڅوک هم
د خُدائ پاک بادشاهی نهٔ شی لیدلے
ترڅو چې هغه بیا پیدا نهٔ شی.“

یوحنا ۳:۳

”زهٔ چې تاسو ته دا ووایم چې
تاسو له بیا پیدا کېدل په کار دی
نو په دې حیرانېږئ مه.“

یوحنا ۳:۷

نو توبه وکړئ او خُدائ پاک ته
راوګرځئ چې ګناهونه مو معاف شی.

اعمال ۳:۱۹

خو کۀ مونږ د خپلو ګناهونو اِقرار وکړُو
نو هغه چې وفادار او صادق دے،
هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او
مونږ به د هر قِسمه بدو نه پاک کړی.

اول یوحنا ۱:۹



خو کومو خلقو چې هغه قبول
کړو او په هغۀ یې ایمان راوړو
نو هغۀ هغوئ ته دا حق ورکړو
چې د خُدائ پاک اولاد شی،
۱۳داسې اولاد چې نۀ په فطری
طور یا په انسانی خواهشاتو
بلکې د خُدائ پاک نه پیدا شو.

یوحنا ۱:۱۲-۱۳

”زهٔ تاسو ته رښتیا وایم، هر څوک
چې زما خبرو ته غوږ ږدی او
په هغه چا ایمان راوړی چې زهٔ
یې رالیږلے یم، هغه تل عُمری
ژوندون لری. او هغه به مجرم
نهٔ شی ځکه چې هغه د مرګ نه
ژوندون ته اوړیدلے دے.“

یوحنا ۵:۲۴



خُدائ پاک د دې دُنیا
سره داسې مینه وکړله
چې خپل اېک یو زوئ یې
هم ورکړو، نو څوک هم
چې په هغهٔ ایمان راوړی
هلاک به نهٔ شی خو د تل
ژوندون به بیا مومی.

یوحنا ۳:۱۶

خو زمونږ د ګناه په وجه هغه
زخمی شو، زمونږ د بغاوت په
وجه هغه چخنې کړے شو. چې
کومه سزا ورکړے شوه نو د هغې
په وجه مونږ ته شفا مِلاو شوه،
هغۀ چې کوم وهل وخوړل نو د
هغې په وجه مونږ روغ شُو.

اشعیا ۵۳:۵



"ګوره، زۀ په ور کښې ولاړ یم او ور
وهم. او کۀ تۀ آواز اورې او ما ته ور
کولاو کړې نو زۀ به درشم او یو بل
سره به په شریکه روټۍ وخورو."

رویا ۳:۲۰

نو چې بیا د ایمان په وسیله مسیح
ستاسو په زړونو کښې واوسیږی.

اِفِسیانو ۳:۱۷

ځکه چې اِبن آدم دې له
راغلے دے چې ورک شوی
ولټوی او بچ یې کړی.

لوقا ۱۹:۱۰

"... او څوک چې ما له راشی
هغه به زۀ هیڅکله ونۀ شړم."

یوحنا ۶:۳۷



روټۍ تیاره ده راشئ.

لوقا ۱۴:۱۷

"اے صاحبانو، زۀ څۀ وکړم
چې خلاصون حاصل کړم؟"
"په مالِک عیسیٰ باندې ایمان
راوړه نو تۀ او ستا خاندان به
خلاصون حاصل کړی."

اعمال ۱۶:۳۰-۳۱

... دا ګواهی ورکړې ده چې څوک هم
په هغهٔ ایمان ساتی نو د هغهٔ د نوم
په وسیله به یې ګناهونو معاف شی.

اعمال ۱۰:۳۴

بلکې زمونږ دپاره هم وې ځکه چې
هغه به مونږ هم صادق وګڼی کهٔ مونږ
په هغهٔ ایمان وساتو چا چې زمونږ مالِک
عیسیٰ له مړو نه بیا راژوندے کړو،

رومیان ۴:۲۵



نو په دې وجه اوس هغوئ مجرم
کېدے نهٔ شی څوک چې په
عیسیٰ مسیح کښې ژوند کوی.

رومیان ۸:۱

زهٔ دا څیزونه تاسو ته لیکم د چا چې د
خُدائ پاک د زوئ په نامه ایمان دے،
نو چې تاسو په دې پوهه شئ چې تاسو
د تل عُمری ژوندون خاوندان یئ.

اول یوحنا ۵:۳۱

... کوی بلکې په دې خوشحاله
شئ چې ستاسو نومونه په
آسمان کښې ولیکلے شول.

لوقا ۱۰:۲۰

په دې وجه کله نه چې مونږ د
ایمان په وسیله صادق کړے شُو نو
د مالِک عیسیٰ مسیح په وسیله د
خُدائ پاک سره زمونږ صُلح ده،

رومیان ۵:۱



ځکه چې خُدائ پاک د خپل فضل په سبب تاسو له د ایمان په وجه خلاصون درکړو، او دا ستاسو خپل کار نۀ وو، بلکې دا د خُدائ پاک د خوا نه انعام دے. خلاصون زمونږ د نېک عمل اجر نۀ دے نو په مونږ کښې دې څوک هم په خپل عمل فخر ونۀ کړی.

اِفِسیانو ۲:۸-۹

د خُدائ پاک د هغه بې‌مثاله
برکت دپاره شُکر دے.

دوېم کورنتیان ۹:۱۵

خو کۀ مونږ په نُور کښې ژوند
کوُو لکه څنګه چې هغه په خپله
په نُور کښې دے نو بیا مونږ
په خپلو کښې شراکت ساتو،
او د هغۀ د زوئ عیسیٰ وینه
مونږ د هر یو ګناه نه پاکوی.

اول یوحنا ۱:۷



زما ګډې زما آواز اوری، زۀ هغوئ
پیژنم او هغوئ ما پسې راځی.
زۀ هغوئ له د تل ژوندون ورکوم
او هغوئ به هیڅکله هم هلاک
نۀ شی او هیڅوک به یې هم
زما د لاس نه ونۀ شوکوی.

یوحنا ۱۰:۷۲-۸۲

خو تاسو هم دې دپاره
رابللے شوی یئ،
ځکه چې مسیح هم ستاسو
دپاره مصیبت وزغملو او
تاسو ته یې یو مثال قائم
کړو نو چې تاسو د هغهٔ په
نقش قدم تلل پرې نهٔ ږدئ.

اول پطروس ۲:۲۱



”او دا یقین ساتئ چې زهٔ به تل او
تر قیامته پورې تاسو سره یم.“

متی ۲۸:۲۰

او تاسو هم دغه رنګ د خلقو د
وړاندې رڼا خوره کړئ د دې دپاره
چې هرکله هغوئ ستاسو ښهٔ
کارونه ووینی نو هغوئ به ستاسو
د آسمانی پلار، لوئی بیان کړی.

متی ۵:۱۶

څوک چې په ما او زما په کلام
شرمیږی نو اِبن آدم به د هغوئ
نه وشرمیږی، کله چې هغه
په خپل جلال او د پلار او د
پاکو فرښتو جلال سره راشی.

لوقا ۹:۲۶



نو، واښۀ اوچ شی او ګلونه مړاوی
شی، خو د مالِک خُدائ کلام د
همېشه دپاره قائم وی.

یشعیاه ۴۰:۸

"زمکه او آسمان به فنا شی خو زما
کلام به هیچرې فنا نۀ شی."

لوقا ۲۱:۳۳

د هیڅ خبرې غم مهٔ کوئ بلکې په
هره خبره کښې خپل درخواستونه د
دُعا او زارۍ په وسیلې د شُکر ګزارۍ
سره د خُدائ پاک په حضور کښې
پېش کوئ، نو بیا د خُدائ پاک سلامتی
چې د پوهې نه بېخی بهر ده، هغه
به ستاسو زړونه او خیالونه د عیسیٰ
مسیح په وسیله محفوظ کړی.

فیلیپیانو ۴:۶-۷



”ما تاسو سره نهٔ ختمېدونکې
مینه کړې ده، ما تاسو په
خپله مینه او رحم سره خپل
ځان ته رانزدې کړئ.“

یرمیاه ۳۱:۳

”یرېږئ مهٔ، زهٔ ستاسو مل یم.“

یشعیاه ۴۱:۱۰

”کۀ چرې داسې نۀ وے نو
بیا به ما تاسو ته دا وئیلی
وُو څۀ چې زۀ ځم چې
تاسو دپاره ځائ تیار کړم؟
او کۀ زۀ لاړ شم او تاسو له
ځائ تیار کړم نو زۀ به په
خپله بیا راشم او تاسو به د
ځان سره بوځم، نو چې چرته
زۀ یم هلته به تاسو هم یئ.“

یوحنا ۱۴:۲-۳



ځکه چې مالِک به په خپله د آسمان نه
د اوچت آواز سره، او د مقربې فرښتې
د آواز سره، او د خُدائ پاک د بیګل د
آواز سره راکوز شی، او په هغۀ کښې
مړۀ شوی به اول د قبر نه راپاځی. او بیا
مونږ ژوک چې ژوندی یُو او پاتې یُو به
د هغوئ سره یو ځائ په وریځو کښې
پورته کړے شُو د دې دپاره چې په هوا
کښې د مالِک سره مِلاو شُو، او دغه شان
به مونږ تل تر تله د مالِک سره یُو.

اول تِسالونیکیان ۴:۶۱- ۷۱

”بیا ما یو نوے آسمان او
یوه نوې دُنیا ولیدله...“

رویا ۱:۲۱

هغه به د هغوئ د سترګو
ټولې اوښکې وچې کړی،
هلته به نور نۀ مرګ،
نۀ ویر، نۀ ژړا او نۀ درد وی ځکه
چې وړومبی څیزونه تېر شوی دی.

رویا ۴:۲۱



”ما ته غوږِ ونیسئ. زۀ عیسیٰ زر درځم...“

رویا ۱۲:۲۲

” او څوک چې تږے وی،
هغه دې راشی، او څوک چې یې غواړی،
د ژوندون د اوبو نه دې وړیا واخلی.“

رویا ۱۷:۲۲

” آمین، مالِک عیسیٰ، راشه.“

رویا ۲۰:۲۲

انجيل ولولئ ، دا د خدای کلمه ده چې تاسو
سره خبرې کوي ، د خدای غږ واورئ.
تاسو لوی او ژوندی خدای ته مهم یاست.

هغه غواړي چې تاسو د هغه د مینې څخه
خبر شئ. د هغه په وینا، هغه به تاسو ته د
سولې او خوښۍ ریښتینې لاره وښيي او تاسو
ته به سوله درکړي.



که تاسو انجیل نلرئ او غواړئ یو یې ولرئ،
موږ کولی شو تاسو ته د نوي عهد نامې یوه
کاپي وړیا واستوو.

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، موږ به خوشحاله
یو چې ځواب یې ورکړو.

Pure Gold

GBV 194 4120 Pashto